# بېشکه الله - جل جلاله - ظالم ته مهلت ورکوي، تر دې چې کله یې راونیسي بیا یې نه پرېږدي

له ابو موسی - رضي الله عنه - څخه روایت دی وایې چې : رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: «بېشکه الله - جل جلاله - ظالم ته مهلت ورکوي، تر دې چې کله یې راونیسي بیا یې نه پرېږدي» بیا یې (دا آیت) ولوست: {وَكَذَلِكَ أَخْذُ رَبِّكَ إِذَا أَخَذَ الْقُرَى وَهِيَ ظَالِمَةٌ إِنَّ أَخْذَهُ أَلِيمٌ شَدِيدٌ} [هود: 102]» «او په شان د دغو (نیولو) نیول د رب ستا دي کله چې هغه کلي نیسي، په داسې حال کې چې هغه (کلي) ظالم وي، بېشکه د هغه (الله) نیول ډېر دردوونکي، ډېر سخت دي».

[صحیح دی] [متفق علیه دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم په ګناه، شرک او د خلکو سره د هغوی په حقونو کې په دوامداره توګه له ظلم کولو څخه خبرداری ورکوي، چې یقینا الله جل جلاله ظالم ته مهلت ورکوي، ځنډوي یې، عمر یې اوږدوي او مال یې زیاتوي، نو په سزا ورکولو کې یې بیړه نه کوي، که چېرته یې توبه ونه کړه بیا یې رانیسي او نه یې خوشي کوي او د هغه د ډېر ظلم له مله یې نه پرېږدي. بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم دا آیت ولوست: {وكذلك أخذ ربك إذا أخذ القرى وهي ظالمة إن أخذه أليم شديد} [هود: 102]، «او په شان د دغو (نیولو) نیول د رب ستا دي کله چې هغه کلي نیسي، په داسې حال کې چې هغه (کلي) ظالم وي، بېشکه د هغه (الله) نیول ډېر دردوونکي، ډېر سخت دي».



النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee